مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۵/۰۳

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## ۳۶مه برخه

## لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۷۶مه برخه

**یوځل بیا صدیق ننگ:**

زما د لنډیو د راټولو د کار په لړ کې، زما ملگري او فرهنگي دوستان هم مرسته کوي، د دایمي همکارانو په ډله کې چې زما د لنډیو په کار کې یې تل مرسته کړې ده، یو هم گران دوست او ښه شاعر صدیق ننگ دی. دا دی نن (۲۰۲۶/۰۴/۲۷) یې بیا یوه ویډیو راولېږه چې د ده له دایمي مرستو همدلته مننه کوم.
په ویډیو د څو تنو دوستانو په گډون یوشاعرانه ارامه بنډار جوړ شوی دی، د رباب او ارمونیم گډه نغمه په ژوندی بڼه غږول کېږي او د مجلس شپږ تنه گډونکونکي په وار سره دوې دوې لنډۍ زمزمه کوي.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ویدیو اتهدقیقې او نهپنځوسثانیې اوږده ده، دا لاندې يې لینک دی:

https://www.facebook.com/watch/?v=233461342804115

په یاده ویدیو کې ټولې لندۍ ما راخوندي کړلې چې دلته به يې له تاسو درنو لوستوکو سره شریکې کړم:

**ته په تازه ماښام اوده شې**
**په تا مئن لالی دې شپې سباکوینه**

**ته چې راځې ما به خبر کړې**
**چې پرپالنګ درته لونګ وغوړومه**

**پرچلم دوې سکروټې خوند کړي**
**لکه چې بنې په سیالۍ خوله ورکوینه**

**پاس په اسمان کې ستوری زه وای**
**یار مې ویده وای، ما يې وکړای دیدنونه**

**په کور کې ستا کیسې شروع دي**
**ځان مې کوڼ کړی دی کوټه جارو کومه**

**په ما دې وکړل، په تا وشه**
**چې په په تا وشي تماشې به دې کومه**

**زړه ماتول هغې ته څه دي**
**دومره اسان لکه بنګړي چې ماتوینه**

**زما ابۍ دادا ته وایه**
**خوشاله نهیم، له ناکامه ژوند کومه**

**زما دې څه وکړل چې لاړې**
**نری - نری زړګی به ستا راپسې چوینه**

**زه د بېلتون د جګړې نهیم**
**زه پې کمزورۍ د پېرو راغلۍیمه**

**زما له عمر سره سمه**
**میراتشېغمه په خندا دې تېرومه**

**زما نه مخکې شه جانانه**
**څوک چې پردۍ تورسرې بیاي مخکې ځینه**

**ستا د ښایست خبره کېږي**
**زه سپېلني درپسې ځکه ګرځومه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

**ستا یاراني مزه رانهکړه**
**د بل له پاره دې هوښيار د عمر کړمه**

**د یاراني مزه دې نه شته**
**لکه د بورېغوا په زور دې ودرومه**

**دا غریبي مې خوښه نهده**
**په وروروليکې سړی پاتې راولینه**

**د دونیا سترګې درپسې دي**
**مور ته دې وایه چې نظر دې ماتوینه**

**دې راروان اخترله راشه**
**دوې ورځې ژوند دی، بیا به نه وي دیدنونه**

**که مو دیورند په منځ کې نهوای**
**لکه ملنګ به دې کوڅو کې ګرځېدمه**

**کله چې دې اختر له راشم**
**یاره ړومبی به نیموړیبابا له ځونه**

**خبرې ډېرې، سر یې یودی**
**ځوک چې د چا ارمان لري، نصیب دې شینه**

**ذهن مې تول جانان خراب کړ**
**قرآن ته ناستیم، الفبب نه پېژنمه**

**ارمان، ارمان د دادا کوره**
**له ډکه شکوره به چاپیره تاوېدمه**

**ما ورته وې بیا به یو نهشو**
**پرېږده چې نن دې غیږ کې سمه وژاړمه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ